مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

هاجره حرکت ۲۰۲۱/۱۰/۰۷

د مور لکچر

د کابل د کډوالۍ په یوه خیمه کې
له کندوزه کډه شوې، کورنۍ ده
د یوې مور او زوي خبرې
دې ښوونکي مور، خپل ځوان زوی ته ویلې
که دې د ښو بدو توپیر په خپله وکړ
په دې پوه شه چې شي واک به دې خپل هله
چې یې وکړې او هم یې درمند واخلې
د کرلو او ریبلو توان پیدا کړې
هم دا ټول په صنعت او په تخنیک کې
ستا وړتیا او نووښتونه راڅرګند شي
پر خپل ځان دې باوري او ښه ډاډمن شي
نو به هله نړۍ ومني چې ته اوس د کار څیز یې
او که نه وي ګرانه واوره:
موږ اوس ټول یوو، د دې شومو ګاونډیو
د دام لومه کې نښتي
نړیوال یوازې انګیري چې موږه
لاس نیولی دی خیرات ته
دې ځوان زوي په حیرت وکتلې مور ته
ویل دا څه وایې ادکې؟
لارې ټولې مو تړلې نړیوالو
پاس هوا کې راته ګرزي بې پیلوټه
ښکته ناست پر ږیره لاس وهي طالب
وایې ښکته پورته نه شي چې دې وژنم
ودې نه لیدل چې ټول یې په کورو کړل
لا خلاصون له دې حالت ناشونی ښکاري
مور یې بیا غږ را اوچت کړ، داسې نه ده
ګرانه ستا په څیر ځوانان دې سره یو شي

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

په دې ښکته پورته لاره کې دې سم شي
زوي يې ځان سره ورو ورو په بنګيدو شو
مـور يـې بـيا کـړه، وايـه څـه دي؟
دې ځوان زوي يې په تروه ټنده کتلې
ويل څه ګرزه، خپل کار کوه مورجانې
دا خو ستا د کوم ټولګي درس خونه نه ده
چې اوس ماته راکـوي ته لکـچرونه

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ